البیروني او د وخت ټولنیزه اوضاع

نیټه: ۳/۱۱/۱۴۴۴

ليکوال: استاد نوراحمد قران مل

موضوع: Researchڅېړنه:

سریزه



د نــړۍ معــاصر تــاريخ او د هغــه مــدني پرمختــګ چـــي لــه شرقــه سرچینــه اخيســتې لامــل يـــې هــم دادی چـــې د شرقـــې ملتونـــو پوهـــان او مخکښــان خلــګ د تحقیقــاتو او تــدقیقاتو پــه لړیــو کــې د غربيــانو پــه پرتلــه مخــکښ او دقیــق دي، ولي کلــه چــې خــبره د نــړۍ دبــاداری او اســتثماري مســائلو لــه اړخــه را منځتــه کيــږي، نــو بيــا دشرقــې ملتونــو د نابغګــانو دغــه ســترکارونه غربيــانو کــاپي او ځــانونو تــه منســوب کــړي. ځکــه نــو پــه شرقــې ملتونــو کــې اوســه د کــارکولو روحيــه او پــه غــربي ملتونــو کــې بيــا د اســانه ژونــد کولو او باداری روحيه موجوده ده.

ولي پــه را کښــتو منځیــو او را و را ورســـتيو کلونــو کــې بيــا لــه هغــه وختــه چــې پــه اروپــا کــې د مســلمانو پوهــانو چــې پــه اندلسيــ- پوهنتونــو او بغــداد پــه بيــت الحکمــت کــې چــې کــوم نخبــه ګــان را پورتــه ســول د علــم پــو هــي ، حکمــت، رياضــت او طــب رهــبري او سرداري د نــړۍ د مســلمانو پوهــانو پــه لاس کــې ســوه نــو غــرب بيــا همغــه مهال، ددې ادعا نسوای کولای چي مدني پرمختګ ددوی میراث باله کيږي.

کلـه چـې د ۱۵سـمي پيـړۍ پـه جريـان کـې د یوریشـیا پـه لودیـدیځ «اروپـا» کـې پـه سـیاسي لیـول کـې مسـلمانان محکـوم او د حاکمیـت کـړۍ يـې پـړی يـې لـه لاسـه و وتلـې، نـو دسیاسـت ، مـدنیت، صـنعت او ... ژوندانـه د دوهـم لاس کـړه وړه مسـلمانانو خپـل کـړل او هغـه موقـف چـې د صـدر اسـلام لـه دوري لـه دوی سره وو، لـه لاسـه ورکـړئ . او پـه عـوض کـې يـې پـه ورسـتيو کـې صـنعتي انقـلاب د سیاسـت او حکومتـداری طنـاب د غربیـان پـه لاس کښېووت، چې په معاصر سياسي بحران کې سکښل او رغول دواړه غربي پوهان کوي .

کلـه چـې مـوږ د اسـلامي نـړۍ پـر اسـلافو حسـاب کـوو، نـو د منځنيـو پيړيـو پـه دوره کـې د امويـانو، عباسـيانو او پــه افغانــه برخــه د غزنويــانو امپراطــورۍ او د هغــوی پــه غيــږه کــې د دنخبګــانو روزل او د مځکنــي علــم صــنعت او مـدنيت ، حسـاب او .... او اسماني علـم « سـتورپيژندني» هغـه ښـه تحليـل او څیړنـه مسـلمانو پوهـانو تـه دريـږي، ځکـه زمانـه پخپلـو پراوونـو کـې د پـام وړ نابغګـان، نخبـه ګـان او مخکښـان لـري، چـې د ټـولنيزو پديـدو او پرمختګونـو لپـاره يـې پـه Social يـا ټـولنيزه او Professional يـا مسـلکي او رشـتوي برخـو کـې د ټـولنيزو خـدمات، تـاريخي فرصـتونه او مـدني پرمختګونـه او ... ورانـدي کـړي، چـې پـر ټـولنيزو او نـړۍ والـو ټولنـو يـې د فـيض سـيوري خپـاره سـوي او اوسيدونکي ځني اغيزمن سوي.

يـو لـه دغـو نوابغـو څخـه پـه منځيـو پيړيـو کـې[i] مطـرح لـوی عـالم ريـاضي دان ، او سـتور پيژنـدونکۍ ابوريحان البيروني دی، چې په نژدې ماضي حال او استقبال کې د نړۍ والو خدمتونو بول په وهلای سو.

ابو ريحان البيروني

د البيروني اړوند درنو او مخکښو ليکوالانو خپلي علمي او تحليلي ليکني او مقالې دروان سيمينار په لړ کي وړاندي کوي د اغيزمنو سرليکونو په انتخاب يې را تلونکي ځوانو نسلونو د خپل له اسلافو يو سلف په داسي ډول بيا وځلاوه، چي د غربي استعمارچيانو د بې جلوه تبليغاتي اجنيسيو په جريان کي زمونږ د مخکنيو اسلافو د ژوند يادښتونه را پيکه او له تاريخي مسيره باسي.

زه پخپل وار سره د علامه ابو ريحان البيروني د ژوند پر اکاډيميکو ابعادو، ځکه نه ږغېږمه چي په اړوند يې د فی الحال لپاره وړاندي سوي مقالې موثري بولم، صرف ددې مقالې متن يوازي او يوازي د ابوريحان البيروني د ژوند پر هغه برخه په اجمالي ډول را گرځېدلئ، چي د هغه وخت د سيمي او محيط اوضاع او له هغې سره د ابوريحان البيروني د تعامل څرک راته روښانه کوي.

البيروني د سيمي ترينگلي او اميد بخښونکي حالات

د البيروني د ژوند پر مهال د مرکزي اسيا د مستوي پر سر طان د پرتې جغرافيې حالات د خراسان په شمالي برخه يا ترکستان په ساحه کي ترينگلي او دا سيمه د خپل جيو پوليټيک موقعيت له امله د خوارزمشاهي کورنی د سقوط او سلجوقيانو د بيداری له امله په سيمه کي د ناقراره او بې کنتروله وضعيت له امله شرايط گډ وډ سول ، ابو ريحان البيروني اړسو چي د او سني افغانستان مرکزي سيمي ته د د وخت واکمن سلطان محمود غزنوي په توجه و غزني ته را وستل سي [ii] او دلته ورته د ژوند زمينه برابره کړل سي.

د البيروني له زوکړي سره مصادف کال

دا مهال په ۹۷۳ ميلادي کال باندي د غزنوي سيمي لپاره دنظم او پياوړي امپراطوری پيلامه ښووله دا کال امير پيري تگين نوموړي د حکمرانی څخه دري کال وروسته يې زوی سبکتگين د غزني واکمن وو د حکمرانی د ترلاسه کولو کال وو د لوی عالم رياضي دان ، او ستور پيژندونکئ ابوريحان البيروني د زوکړي له کال سره مصادف وو.

د خراسان او غزني په شاوخوا کي ښورښونه

دالبيروني د زوکړي سيمي د خراسان شمالي سيمه چي د البيروني د زوکړي سيمه ده [iii] د هغه د مراحقيت يا ۱۲ کلنی پر مهال د خراسان سيمه وه د خوارزمي نظام تزلزل هم له هغه ځايه را پيل سو، چي په ۹۸۲ ميلادي معادل د ۳۷۲ قمري کال سره سر خوري ، د ابوالحسن سيمجوري پر ځای د «تاش» په نوم يو بل کس د خراسان سپه سالار مقرر او عبدالله بن احمد عتيبي چي د نوح بن منصور ساماني وزير وو ترور سو. [iv]

دوه کال وروسته په ۹۷۵ م کال کي بيا په اندراب کي « سهيلان بن مکتوم» نوی امارت اعلان او پر خپل نامه نوي سيکه ووهله، خو په تاش کي د خراسان سپه سالار مقرر او عبدالله بن احمد عتيبي چي د نوح بن منصور ساماني وژني په سيمه د ناقراراې او نورو د پام وړ کړنو په غزني کي دا زمينه برابره کړه چي د غزنوي سلطنت بنسټ پياوړئ سي.

په ۹۷٦ ميلادي کال باندي د سلطان محمود غزنوي پلار ناصرالدين سبکتگين د خپل سلطنت په پياوړي کولو بوخت وو، چي د لوگر په څرخ سيمه کي واکمن اخري «لويک» د کابلي رطبيلانو څخه د کابل

وروستي کابلشاه سره په ګډه د سبکتګين په مقابل کې د مقاومت جبهه جوړه او بغاوت يې وکړ. تر څه برخورد وروسته« کابلشاه او لويک» ماته وخوړه او امير ناصرالدين سبکتګين پر غالب سو.

د غزنوي او د ملتان لودي پښتني سلطنتونو ترمنځ د نورمال وضعيت منځته راتګ

د کابل پر شاوخوا، ملتان او د هغه پر محيطي سيمه باندي د امنيت د ټينګښت او اړيکو د پراختيا په ملحوظ ځلور کال وروسته په ۹۸۰ ميلادي کال کي د «غزنوي واکمن سبکتګين » او په هند کي د«پښتانه واکمن شيخ حميد لودي» تر منځ روغ وسوه. دا روغه پر دې منتجه سوه چي دافغانستان مرکزي، جنوب شرقي او جنوبي سيمو په مربوطاتو کي امن قايم او د خوارزم شاهي نظام په پرتله هر څه مثبت لوري واوړي .

علم، صنعت او فرهنګ پر مختګ وکړي او په نظامي او سياسي برخو کي د يوې پياوړي امپراطورۍ لپاره اساس کښېښول سي. په دې سيمه کي چي لا مثبت تحولات مخ په وړاندي د غزنوي سلطنت په ګټه پر مخ تله ، د افغانستان په شمال، خراسان برخه کي د خوارزم شاهانو واکمني مخ پر ځوړه سوه چي په ۹۸۵ ميلادي کال کي د نوموړو پر ضد سلجوقيان لاس په کار او د بخارا په سيمه کي يې ظهور وکړئ.

دوه کال وروسته « ابوالحسن سيمجوري» او «فايق» پر «برتاش» باندي لاس برى او خراسان ځني لاندي کړئ.

غزني ته د داليبروني تګ يا لېږدول

ابوريحان البيروني چي په ۹۷۳ ميلادي کال د دسپتمبر پر ۳يمه نېټه د بخاراپه « خېوه» کي وزوکېدئ ، خپله د طفوليت او مراحقيت دوره يې په خپله پلرنۍ سيمه خيوه او بخارا کي تيره کړه ۱۲ کلن وو، چي د خوارزمشاهانو په مقابل کي د سلجوقيانو ظهور دا سيمه په سياسي برخه کي متزلزله کړه. په منځنيو پيړيو کي دغه منجم او رياضي دان د خپل عمر په ۲۷ کلنۍ کي د « کتاب اثارالباقيه عن القرون الخاليه» په نوم کتاب وکيښ، چي د سيمي د پوهانو توجه يې را جلب کړه.

د هيواد او سيمي پياوړی مؤريخ او محقيق ليکوال اروانباد پوهاند علامه عبدالحی حبيبي د البيروني د کوچ په اړه کاږي: کله چي د خوارزمشاهانو کورنۍ ورانه سوه نو بيروني ناچار سو[۷]چي خپل وطن پريږدی، او د يو لوی بل حکمران پالنه ومني. هغه لمړی غزني او بيا هند ته ولاړ او تر لسو کلونو پوري هلته پاته سو.

د رباري ليکوالان هڅه کوي چي د وخت د حاکمو د خوښ ساتلو، توجه جلبولو او امتياز اخيستلو په توسن داسي ليکني وکړي چي تر ډېره د حقايقو تر وړاندي کولو د وخت د واکمن خيال ساتلو ته ترجيح ورکوي ، رياضي دان البيروني سره تر دې چي خپل ځني اثرات يې د خپل پلرني وطن خراسان «خيوې» څخه په را کښته غزني کي د غزنوي سلاطينو په نومونو وکښل، ولي په تحقيق او څېړنه کي د يوه خپلواک او بې مراعته ليکوال په توګه   دانتقادي ليکوالۍ پلوئ او دا يې ښوولې، چي په تحقيق او څېړنه کي بايد ليکوال بې پرې او دکوم څه تر اغيزې لاندي را نسي.

د رياضي او ستور پيژندني دقيق او ځيرک عالم

البيروني د جغرافيوي علومو د څېړني او تدقيق په تر سره کولو سره وښووله، چي د مځکي کُره د يوناني جغرافيه پوهانو په تحقيق کي « په ستور پوهنه کي د مځکی د کرې محيطي دايره چي د(سرطان او

جـدي) مســتوي خطونــو تــر مــنځ پــه صــفري نقطه(اســتوی خــط) کــي امتــداد پیــدا کــوي دایــروي اوږدوالــئ یــې ۲۴۷۷۹ میلـه وټاکـه، چــي د معــاصر ټکنــالوژيکي او پرمختللــو ډیجیټــل تحقیقــاتو پــه مقایســه سره صرف ۷۸ میلـه فاصلـه پیـدا کـوي ، حـال دا چــي د البیـروني تـر مخـه د یـو نـاني پوهـانو تحقیقـاتي امتـداد پـر اټکـلي ۲۱ زره میلـه فاصـلې، هنـدي محقیقینـو د خپلـو اټکـلي پریکـړو لـه املـه ۲٦ زره میلـه امتـداد ټـاکلئ وو، چـي پـه زرګونـو میلـو مقایسـوي تفـاوت لـري، خـو د البیـروني دقیقـه څېړنـه او د کُـلي تـامو عـددنونو د لـس زریـزه، عـدده نیـولې تـر یـویزه پـه بـر کي نیسي د هغوی د څراکت ښئي.»[vi]

د البیروني د وخت پر شا خوا مطرح علمي شخصیتونه

د البیــروني د ژونــد لنــډ شــا او مختــه کلونــه پــه ســیمه، پــه ځــانګړي ډول د معــاصر افغانســتان او شــا وخــوا ســیمو نابغــان، پوهــان او فیلســوفان او محــدثین، داســې کســان وه چــي دا هیــواد یــې پــه موجودیــت فخــر وکــړي: « احمـد بـن عـامر بـن بشـیر مـروردي شـافعي فقـه ، ابـو جعفـر محمـد عبدالله بـن عبدالله هنـدواني بلخـي فقـه (۹۷۳) مړه ، ابـو منصـور محمـد بـن احمـد دقیقـي بلخـي شـاعر (۹۷۵) مړینـه ، شـیخ ابوزیـد محمـد بـن احمـد مرغـزي هـراتي (۹۸۱) مـړ، ابـو سـلیمان محمـد بـن طـاهر منطقـي سیسـتاني (۹۹۰)مـړ، احمـد بـن حسـین بـن مهـران نیشـاپوري محـدث (۹۹۱)وفـات ، د معـالم السـنن مؤلـف ابوسـلیمان احمـد بـن محمـد خطـابي بسـتي (۹۹۸) مـړ، مـنجم او د (شـکهت بـت) دکتـاب مؤلـف اوکربـوت(۹۹۹)مـړ ، ابوالقاسـم منصـور بـن محمـد هـروي پـه کـوفي خـط د قـران کـریم د نسـخې کښـونکئ چـي پـه ۱۰۰۲ کـال یـې د مشـهد رضـوي کتـابتون تـه ډالـۍ او تـر اوسـه یـې نسخه هلتـه خونـدي ده . حنفـي لـوی فقـه او زاهـد اسـماعیل بـن حسـین بیهقـي (۱۰۱۱) مـیلادي مـړ ، لـوی محـدث ا و دقـران کـریم مفسـیر محمـد ابـن حبـان بسـتي، خواجـه احمـد میمنـدي، د احمـد میمنـدي پـه ګمارنـه د پښـتو الفبـا د ترتیبـوونکئ قـاضي سیف الله او .... علماء او پوهان د ساري په ډول یادولای سو.

دا هغـه کسـان وه چـي د همغـه وخـت پـه علومـو او کشـفیاتو کـي یـې خـولې تویيـونکي کـار تـر سره کـړي ، نـه یوازي د خراسان، بلکي د اسلامي نړۍ د نورو سیمو پیروان یې له علمي فیوضاتو برخمن سوي دي.

نتیجه

مـوږ خـپلي وروسـتیي پـایلي تـه رسـیږو چـي ابـو ریحـان البیـروني د خپـل وخـت لـه هغـو نوابغـو څخـه وو، چـي بویـه سـاری بـه یـې د هغـه تـر مخه پـه مـاضي او تـر هغـه وروسـته مـاضي کـي ډیـر کـم پیـدا کیـږي، دا شخصـیت چـي د علـم نجـوم پـه پیژندنـه سره د نـړۍ پـه نجـوم پیژندنـه ځانتـه ځـانګړئ مقـام لـري، او د جغرافیـوي د حـدود و او مځکنـي عـرضي طوالـت داسي مهـال تثبیـت کـړئ، چـي د د مځکـي د طوالبلـدونو پـه موجودیـت لا د دقیقـو او درجـو ثبـوت خپـل نهایـت نـه وو خپـل کـړئ او عـرضي خطونـه د خپـل منځـي ۲۵ درجـو لرونکـئ حالـت لا پـه بشـپړ ډول زمـوږ د سـیمي د جغرافیـه پوهـانو لـه خـوا نـه تـدقیق سـوئ مـوږ تـه یـې تـر شـا داسي علمـي تحقیقـات پریښـوول، چـي نـن ورځ په نړۍ وال توګه بول پر وهو.

سره تــر دې چــي د اراضي پــه لحــاظ زمــوږ دغــه ســتر نابغــه لــه مــوږه پرتــه د نــورو هیوادونــو مخکښــان البریـوني خپـل هیـواد تـه منسـوبوي، خـو پـه بخـارا، غـزني او د هغـه وخـت پښـتنې واکمنـۍ ملتـان پـه سیمه کـي د هغـه لس کلن ژوند تیریدل ددې ثبوت ښیي ، چي موږ یې د یوه ویاړلي افغان په صفت و پیژنو او وې پالو .

د البیــروني عــالم روح دي هوســا او د علمــي ســیوري فــیض دي یــې د معــاصري نــړۍ پــر اوســېدونکو خپــور وي.

په در نبښت

وړاندیزونه:

- سره تـر دې دالبیـروني د نـوم پاتـه کېـدو پـه خـاطر بـه ځنـي علمـي کمپسـونه نومـول سـوي وي، چـه داده چـې ددې شـخص د ژونـد، فـن، اسـتوګنې، تالیفـاتو، او هـم عصرـو علـماؤ یـو الفبـایي لاربښـود ترتیب او د راتلونکو نسلونو د پو هونې لپاره پاته سي
- د افغانســتان پیژنــدنې برخــې او اتنــو ګرافــۍ برخــه کــې د د البیــروني ژونــد او فــن د ببلیــو ګرافــۍ برخه ور اضافه سي.
- د نـړۍ والـو زایرینـو پـر مـخ د راجلـب پـه خـاطر د هغـه مقـبره او شـا وخـوا مـاجر پـه کلاسـیکي بخارایي معماري سبک جوړ سي.

د مقالې د مخزن ټکي

البیـروني، ابوریحـان، ټـولنیزه اوضـاع، تعامـل، د وخـت محـیط، تجـارب سـالاري، ځـوان نسـل، پیغـام. د وخـت مشهور علماء، غزنوي سلطنت، لودي سلطنت، خوارزمشاهي او سلجوقي سلطنتونه، او ...

---

[i] دالبیروني کتابښود۳مخ ، مرتب او بشپړوونکۍ:علامه عبدالحی حبیبي ۱۳۵۲ل کال بیهقي کتاب خپرولو موسیسه، افغانستان – کابل

[ii] دالبیروني کتابښود۳مخ ، مرتب او بشپړوونکۍ:علامه عبدالحی حبیبي ۱۳۵۲ل کال بیهقي کتاب خپرولو موسیسه، افغانستان – کابل

[iii] د پوهاند علامه حبیبي شل مقالې، دوهمه برخه ، ۱ مخ ، مرتب: پوهنمل مطیع الله روهیال، ۱۳۸۲ ل کال، چاپ چاري هیواد کلتوري ادبي ټولنه، افغانستان کندهار

[iv] د افغانستان پیښلیک، لمړی ټوک ، ۳۱ مخ لمړی ستون، لیکوال علامه عبدالحی حبیبي ۱۳۵۳ل ، بیهقي کتاب خپرولو موسیسه، افغانستان – کابل

[v] دالبیروني کتابښود۳مخ ، مرتب او بشپړوونکۍ:علامه عبدالحی حبیبي ۱۳۵۲ل کال بیهقي کتاب خپرولو موسیسه، افغانستان – کابل

[vi] د پوهاند علامه حبیبي شل مقالې، دوهمه برخه ، ۲-۳ مخونه ، مرتب: پوهنمل مطیع الله روهیال، ۱۳۸۲ ل کال، چاپ چاري هیواد کلتوري ادبي ټولنه، افغانستان کندهار